رواداری
RAWADARI

# په افغانستان کې د ماشومانو د بشري حقونو وضعیت

## د مدني او سیاسي حقونو پر تمرکز

اگست ۲۰۲۱-اکتوبر ۲۰۲۳

نوامبر ۲۰۲۳



www.rawadari.org

رواداری
RAWADARI

رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختيا، حساب ورکوونی، او د قرباني محوره عدالت د کلتور د تامينولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پريتوب د اصل په بشپړ رعايت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شويو نړيوالو اصولو او معيارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د سرغړونې پيښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په ريښتينولۍ سره خپروي.

## د مطالبو لړلیک


١ سریزه
٢ د معلوماتو راټولولو تګلاره

٣ لومړۍ برخه - د ملي قوانینو لغوه کول او د ماشومانو د حقونو پر وضعیت یې اغیزې
٥ د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د بېلابېلو بڼو زیاتوالی
٥ د ماشومانو په جبري او کم عمره ودونو کې زیاتوالی
٦ له کم عمره نجونو سره د طالبانو جبري ودونه
٨ د ماشومانو د ځان وژنو د قضیو زیاتوالي
٩ په ښوونځیو کې ماشومانو سره تاوتریخوالی او ناوړه چلند
١٠ په دیني مدرسو کې د ماشومانو جنسي ځورونه
١٢ د سرتیرو او نظامي پرسونل په توګه د ماشومانو کارول

١٥ دویمه برخه - د عادلانه محاکمې د اصولو نقض او د متخلفو ماشومانو د بشري حقونو وضعیت
١٧ د ماشومانو د ځانګړو قوانینو لغوه کول
١٧ د غیر قضایي میکانیزمونو له لارې د ماشومانو سرغړونو ته رسېدنه
١٨ مدافع وکیل ته د لاسرسي نشتوالی
١٩ د ماشومانو قضیو ته په رسیدنې کې ځنډ
١٩ د لویانو بندیانو سره یو ځای د محجوزو ماشومانو ساتل
٢٠ له محجوزو ماشومانو سره ناوړه چلند او شکنجه
٢٠ له ماشومانو سره د طالبانو د محکمو توپیري چلند
٢٢ پر ماشومانو د ظالمانه سزاګانو پلي کول

٢٣ درېیمه برخه - پایله او وړاندیزونه
٢٥ پایله
٢٦ وړاندیزونه
٢٧ د سرچینو لړیک

## سریـزه

د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ مه، طالبان واک ته راستانه شول او د لومړي اقدام په توګه یې د ماشومانو د ځانګړو قوانینو په ګډون ډېری پخواني قوانین لغوه اعلان کړه. له هغه وخته تر اوسه چې له دوه کلونو ډېره موده تېره شوې، طالبانو نه د ماشومانو د بنسټیزو حقونو د تضمین لپاره کوم اقدام کړی، او نه یې هم د بشر حقونو د بین المللي اسنادو پر بنسټ پر خپلو قانوني ژمنو او مکلفیتونو عمل کړی دی. له همدې امله، اوس مهال هیڅ قانون نشته چې په رسمي ډول یې د ماشومانو له اساسي حقونو څخه سرغړونه منعه کړې وي، او جرم یې ګڼلی وي. هغه ستونزه چې د ماشومانو پر وړاندې د مجرمانه چلندونو د بېلابېلو بڼو د زیاتوالي او له هر ډول عدلي او قضایي تعقیب څخه د مرتکبینو د معافیت لامل ګرځېدلې ده.

د دې راپور موندنې، چې د ۱۵ اګست ۲۰۲۱- اکتوبر ۲۰۲۳ مودې باندې تمرکز کوي، ښیي چې د مخنیوونکو او ملاتړ کوونکو قانوني میکانیزمونو د نشتوالي له امله، د ماشومانو د اساسي حقونو نقض، لکه جبري او وختي ودونه، ځان وژنې، جنسي ځورونې، او د تاوتریخوالي او ناوړه ګټې اخستنې نورې بڼې د هیواد په بېلابېلو برخو کې زیاتې شوې دي، چې په دې کې وړې نجونې، د حاکمې ډلې جنسیت ځپلې ليدلوري او تبعیضي چلند ته په کتو، په لا سخت وضعیت کې دي. همدا راز، په ځینو ولایتونو کې داسې قضیې مستندې شوې دي چې ښیي طالبان د نورو توکمیزو او مذهبي ډلو له ماشومانو او هغو ماشومانو سره تبعیضي چلند کوي، چې پلرونو یا خپلوانو یې له مخکني حکومت سره کار کړی دی.

له بلې خوا، د عادلانه محاکمې د اصولو په رعایتولو کې د طالبانو د مکلفیت نشتوالی، او د اړینو قضایي ظرفیتونو او ملاتړونو نشتوالی، د قانون څخه په سرغړوني تورن ماشومانو د بشري حقونو د نقض لامل شوی. د ترلاسه شویو شواهدو او مدارکو پر بنسټ، طالبان اکثرا د غیر قضایي میکانیزمونو له لارې د تورنو ماشومانو قضیې حل  و فصل کوي.

سره له دې، د افغانستان د حقوقي او عدلي او قضایي سیستم ویجاړتیا او له هغې وروسته د مخنیوونکو او ملاتړو میکانیزمونو نشتوالی، د تعلیم او کار له حقونو څخه د ښځو او نجونو قصدي محرومول، او د کورنیو په بې وزلۍ او اقتصادي ستونزو کې زیاتوالی د افغانستان د ماشومانو د بشري حقونو د وضعیت په لا خرابیدو کې تر ټولو مهم اغېز لرونکي عوامل دي.

دغه راپور د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د ۲۰۲۳ کال تر اکتوبر پورې د طالبانو په دوه کلن حکومت کې د ماشومانو د مدني او سیاسي حقونو د وضعیت څارنه کړې، او تمه کیږي چې د دې راپور موندنې او سپارښتنې د اړوندو بین المللي مراجعو، بشري حقونو سازمانونو، رسنیو او واکمنې ډلې د پام وړ وګرځي او په دې توګه ماشومانو حقونو او انساني آزادیو ته د ماشومانو د ډاډمن لاسرسي لپاره عملي ګامونه واخستل شي.

## د معلوماتو راټولولو تګلاره

روادارۍ په افغانستان کې د ماشومانو د مدني او سیاسي حقونو د نقض اړوندو معلوماتو، اسنادو، شواهدو او مدارکو د راټولولو لپاره د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱٦ مې ۲۰۲۳ کال د اکتوبر تر ۱٦ مې په ټولیز ډول د هیواد په ۲۵ ولایتونو کې له ۱۸۱ مدافع وکیلانو، د عدلي او قضایي ادارو کارمندانو، قربانیانو او د دوی د کورنی غړو، د روغتیا او تعلیمي مرکزونو چارواکو، د بشر حقونو مدافعینو[۱]، ژورنالستانو او فرهنګي فعالانو سره، مرکې ترسره کړې دي. په مرکو کې ۱۳۹ نارینه، ۳۰ ښځې او ۱۲ ماشومان شامل ؤ. له یادو سرچینو څخه ترلاسه شوي معلومات د بشري حقونو د نړیوالو اسنادو پر بنسټ تحلیل او ارزول شوي او د روادارۍ د څارونکو لخوا تعقیب شوي او مستند شوي دي.

د دې راپور موندنې ښيي چې طالبانو معلوماتو ته د لاسرسي اړوند، او په ځانګړې توګه د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند خورا سخت محدودیتونه لګولي دي. تر دې چې قربانیان او د دوی د کورنی غړي په رسنیو کې د هر ډول نظر څرګندولو یا د بشر حقونو سازمانونو سره له خبرو کولو څخه منعه شوي دي. له همدې امله، په دې راپور کې د راغلیو معلوماتو راټولول او مستندول، له یو پلوه د طالبانو لخوا د سختو محدودیتونو وضعه کولو له امله، او له بلې خوا په افغان ټولنه کې د کلتوري او ټولنیزو حساسیتونو له امله، د روادارۍ لپاره یو سخت او له ننګونو ډک کار و. د طالبانو لخوا د ښځو پر کار او ګرځېدو را ګرځېدو د محدودیتونو زیاتوالی یوه بله لویه ننګونه ده، چې د ښځو او نجونو د بشري حقونو د وضعیت څارنه لا ډېره ستونزمنوي. له همدې امله، هغه څه چې په دې راپور کې شامل دي کیدای شي د افغان ماشومانو د بشري حقونو د سرغړونو د پیښو یوه برخه بیان کړي. روادارۍ په کلکه پر دې باور لري، چې د ماشومانو د حقونو د سرغړونې قضیې په دې راپور کې د راغلیو قضیو څخه خورا ډېرې دي.

د یادونې وړ ده، چې د امنیتي اندیښنو له امله، په قصدي ډول د قربانیانو د شهرت او هم د بشر حقونو د نقض د یو شمېر پېښو د نېټې او ځای اړوند د توضیحاتو ورکولو څخه ډډه شوې ده.

۱ کابل، غزنی، هرات، کندهار، ارزګان، هلمند، بدخشان، تخار، فاریاب، بامیان، دایکندی، غور، پنجشیر، قندوز، میدان وردک، پکتیا، پکتیکا، خوست، نیمروز، فراه، سرپل، بلخ، ننګرهار، جوزجان او سمنګان.

لومړۍ برخه

# د ملي قوانينو لغوه کول او د ماشومانو د حقونو پر وضعيت يې اغيزې



عکس: سهراب عمر

په افغانستان کې د پخوانیو قوانینو له مخې، د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي او مجرمانه چلند ټول ډولونه منعه شوي او جرم ګڼل شوي ؤ؛ خو واک ته له بیرته راستنیدو وروسته، **طالبانو د اساسي قانون، د ښځو او ماشومانو د ځورونې د مخنیوي قانون، د ماشومانو اړوند سرغړونو ته د رسیدو قانون، او ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون په ګډون ډېری ملي قوانین لغوه کړه. اوس، د ماشومانو پر وړاندې د جرمونو مرتکبینو ته د سزا ورکولو لپاره هیڅ قانون نشته او طالبانو هم په تیرو دوو کلونو کې د بشر حقونو نړیوالو اسنادو سره د افغانستان له یوځای کېدو څخه رامنځته شویو مکلفیتونو او ژمنتیاوو باندې عمل نه دی کړی.**[٢]

له همدې امله، د رواداري موندنې ښیي چې په تیرو دوه کلونو کې په هیواد کې د قانوني نظم د پاشلتیا او د مناسبو ظرفیتونو او قانوني ملاتړونو د نشتوالي له امله د ماشومانو د اساسي حقونو څخه په سرغړونو او د دوی پر وړاندې د تاوتریخوالي په بېلابېلو بڼو کې زیاتوالی راغلی دي.

## د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د بېلابېلو بڼو زیاتوالی

د بشر حقونو نړیوال اسناد د ماشومانو پر جسمي او رواني روغتیا او د دوی پر وړاندې د هر ډول تاوتریخوالي ډک چلند پر بې قید و شرطه ممنوعیت باندې ټینګار کړی. د دې اسنادو پر بنسټ، دولتونه مکلف دي چې د ماشومانو د انساني کرامت څخه د سرغړونو او د هغوی پر وړاندې د تاوتریخوالي څخه د ډکو عملونو د مخنیوي لپاره قانوني، اجرايوي، ټولنیز او تعلیمي اقدامات پلي کړي.[٣] که څه هم، په تیرو دوه کلونو کې د طالبانو اسلامي امارت په بین المللي اسنادو کې د ماشومانو د اساسي حقونو د ساتنې لپاره درج شویو مقرراتو باندې هیڅ عمل نه دی کړی؛ بلکې، د پخوانیو قوانینو په لغوه کولو سره یې د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي او مجرمانه چلندونو د مختلفو ډولونو د زمینو په پراخه کولو کې مرسته کړې ده.

## د ماشومانو په جبري او کم عمره ودونو کې زیاتوالی

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق په زوره د ماشومانو د واده کولو پر بې قید و شرطه ممنوعیت ټینګار کړی، او د نکاح د عقد په رسمیت پېژندنه یې د واده د دواړو خواوو په قانوني عمر پوري تړلې ده.[٤] د دې اصولو ترلاسه کول اړتیا لري چې د کورنیو قوانینو لخوا تضمین شي، چې له بده مرغه په افغانستان کې اوس هیڅ قانون نشته چې د واده لپاره شرایط ټاکي او د ماشومانو د جبري ودونو مخه ونیسي. په همدې دلیل، او د راپورونو پر بنسټ د بې وزلۍ او اقتصادي ستونزو د پراخیدو، دودیزو باورونو او د کورنیو د کم پوهاوي له امله په کلیو او لیرې پرتو سیمو کې د نجونو د جبري او ژر ودونه په تیرو دوو کلونو کې ډېر شوی دی.

---

٢ افغانستان د بشري حقونو له ګڼو بین المللي اسنادو سره یوځای شوی او په ١٩٩٤ کې یې د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون لاسلیک کړی دی. د دې هیواد د واکمنې ډلې په توګه، چې سیاسي واک په لاس کې لري، طالبان مکلف دي چې په دې اسنادو کې ذکر شوې ژمنې او مفاد رعایت کړي.

٣ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ١٩٤٨، ٥ ماده. د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، ١٩٦٦ کال کې تصویب شوی، ٧ ماده او د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون، د ١٩٨٩ پریکړه لیک، ١٩ ماده.

٤ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون، ١٩٦٦، ٢٣ماده .

د دې راپور موندنې ښيي، چې په تیرو دوو کلونو کې ګڼ شمیر کم عمره نجونې د پیسو په بدل کې له ډېر عمر لرونکو کسانو سره واده شوي دي. له غور ولایت څخه هم، سیمه ایزو سرچینو رواداري ته ویلي چې په دې ولایت کې د واده د قانوني عمر څخه د کم عمره نجونو جبري ودونه بې مخينې زيات شوي، چې په ځينو مواردو کې د قربانیانو د ځان وژنې لامل شوي دي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۲ د اکتوبر پر ۲۲، یوه ۱۷ کلنې نجلۍ چې د خپل رضایت پرته له یو سړي سره واده ته اړیستل شوې وه، ځان وژنه وکړه. قرباني ته نږدې یوې سرچینې وویل چې هغه واده ته راضي نه وه او د واده د مراسمو له جوړېدو مخکې يې د ګولۍ په ډز سره خپل ژوند پای ته ورساوه.

دا مهال تر ټولو مهمه مسله دا ده چې په افغانستان کې د ماشومانو جبري او ژر ودونه په رسمي توګه نه دي منعه شوي، او نه هم د مرتکبينو لپاره مجازات په نظر کې نیول شوی دي. له همدې امله، رواداري د خپلو څېړنو په ترڅ کې هیڅ داسي اسناد یا معلومات ونه موندل چې حتی یو تن دي هم په تیرو دوو کلونو کې د ماشومانو د جبري ودونو مرتکبينو څخه د طالبانو په محکمو کې مجازات شوی وي. عدلي او قضايي اداري د پخلاينې او غیر قضايي ميکانيزمونو له لارې د ماشومانو د جبري ودونو شکايتونه حل کوي.

سربېره پردې، د زده کړې حق څخه د ښځو او نجونو قصدي محروميت يو بل لامل دی چې د جبري او کم عمره ماشومانو د ودونو په زياتوالي کې کليدي رول لوبوي. د مثال په توګه، **د غور ولایت اوسیدونکې یوه نجلۍ، چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د حکومت له نسکورېدو څخه مخکې په ښوونځي کې د اووم ټولګي زده کونکې وه، واده کولو ته اړیستل شوه. هغې ویلي دي چې د نجونو پر مخ د ښوونځيو او پوهنتونونو د دروازو له تړلو سره يې د راتلونکي لپاره هيله بايللې ده او مجبوره شوې چې واده وکړي. په یوه بله ورته قضيه کې، د غزني ولايت څخه یوې ۱۵ کلنې نجلۍ رواداري ته ویلي چې هیله يې درلوده له ښوونځۍ څخه تر فارغېدو وروسته پوهنتون ته لاړه شي او حقوق ولولي؛ خو د نجونو پر مخ د ښوونځيو او پوهنتونونو د دروازو له تړل کېدو سره هغه اړ شوه چې واده وکړي.**

## له کم عمره نجونو سره د طالبانو جبري ودونه

د دې راپور موندنو ښودلې چې طالبانو په افغانستان کې د واک ترلاسه کولو وروسته، د قانوني عمر څخه کم عمر لرونکې نجونې په زوره ځان ته نکاح کړې دي. که څه هم د طالبانو مشر د خپلو ځواکونو په بل واده د بندیز فرمان ورکړی؛ خو فرمان په عمل کې نه دی رعايت شوی.

رواداري د طالبانو د سیمه ایزو چارواکو لخوا د ماشومانو ودول او د کم عمره نجونو د جبري ودونو ډېرې پېښې مستندې کړې دي، چې د هیواد په بېلابېلو برخو کې پېښې شوې دي. لکه څنګه چې په نیمروز ولایت کې، د طالبانو یوه سیمه ییز چارواکي په زوره له ۱۳ کلنې نجلۍ سره نکاح کړې ده. د قرباني کورنۍ د اقتصادي ستونزو او امنيتي دلايلو له امله نه دي توانېدلي د پيښې پر وړاندې اعتراض وکړي. په یوه بله قضيه کې، په میدان وردک ولایت کې یوه نجلۍ اړ شوې چې د واده قانوني عمر ته تر رسيدو وړاندې د شپږ سوه زرو افغانيو په بدل کې یو طالب ته په نکاح ورکړل شي.

رواداري په کندهار او هلمند ولایتونو کې ډېرې قضیې مستندې کړې دي چې ۱٤ او ۱۵ کلنې نجونې د بې وزلۍ او فقر له امله له ۵۰ کلنو څخه ډېر عمر لرونکو نارینه وو سره په اجباري توګه ودونو ته اړېستل شوې دي. په دې اړه د کندهار حوزې د عدلي او قضايي ادارو یو کارمند ویلي چې د نجونو د جبري او ژر ودونو شمېر د تېرو کلونو په پرتله په چټکۍ سره زیات شوی دی. په ورته ډول، د فراه ولایت یوې بلې سرچینې رواداري ته ویلي چې د واده په پلمه د نجونو پلورل یو فرهنګ جوړ شوی دی؛ څکه چې په عمل کې قانوني ممنوعیت نلري او مرتکبینو ته یې سزا نه ورکول کیږي، د بیلګې په توګه، په دې ولایت کې د یوې کورنۍ درې نجونې واده کولو ته اړېستل شوې دي.


عکس: سهراب عمر

همدارنګه، د ۲۰۲۳ د اګست پر ۵مه د فارياب ولايت په «دولت اباد» کې د طالبانو ولسوال چې غوښتل يې يوه نجلۍ په زوره خپل ساتونکي ته چې خوريی يې دی په نکاح کړي، د ځايي خلکو له اعتراض سره مخ شو او واده ترسره نه شو؛ خو سیمه ییز حکومت او د طالبانو عدلي او قضايي ادارو په دې اړوند هيڅ اقدام ونه کړ.

همدارنګه، د کندوز ولايت «امام صاحب» ولسوالۍ کې د طالبانو يو ځايي قوماندان، چې مخکې يې دوه ودونه کړي دي، يوه ۱۵ کلنه ماشومه يې د دريمې ميرمنې په توګه خپل ځان ته نکاح کړې ده. د قرباني کورنۍ په پيل کې موافقه نه وه او واده ته يې رضايت نه درلود؛ خو د دې ځايي قوماندان لخوا تر ګواښ وروسته يې ومنله. همدا راز، د ۲۰۲۲ کال د اګست پر ۲٤، د تخارولايت «درقد» کې د طالبانو ولسوال، سره له دې چې دوه ښځې لري، يوه نجلۍ يې په زوره نکاح کړې ده. په ميدان وردګ ولايت کې د طالبانو يو ځايي قوماندان هم له يوې نجلۍ سره په زوره واده کړی دی. د قرباني کورنۍ په واده راضي نه ده او اوس د امنيتي دلايلو او د عدالت د نه تامينيدو د انديښنې له امله د دې قضيې تعقيب او شکايت کولو ته نه دې حاضر. په دايکندي ولايت کې هم د طالبانو يو ځايي قوماندان په زور له يوې نجلۍ سره واده وکړ. د قرباني پلار يو پخوانی نظامي و چې له طالبانو سره په جګړه کې پخوا وژل شوی دی.

سربېره پردې، د شته معلوماتو له مخې، په تيرو دوو کلونو کې په ختيځو ولايتونو کې هم له قانوني عمر څخه کم عمر لرونکو نجونو سره د سيمه ايزو طالب چارواکو د جبري ودونو لسګونه قضيې شته، خو د امنيتي ملاحظو او شته فرهنګي حساسيتونو له امله، ډېر کمې ښکاره او افشا کيږي. طالبانو حتی د قربانيانو کورنيو ته ګواښ کړی چې ادارو او اشخاصو ته د هر ډول معلوماتو ورکولو څخه ډډه وکړي.

## د ماشومانو د ځان وژنو د قضيو زياتوالی

د رواداري د ځېرنو پايلې ښيي چې په تيرو دوو کلونو کې د ماشومانو او ځوانانو ترمنځ د ځان وژنې اقدام د مختلفو دلايلو له امله لوړ شوی، چې بې وزلي او اقتصادي ستونزې يې له خورا مهمو عواملو څخه دي. لکه څنګه چې د طالبانو تر کنترول لاندې په افغانستان کې د کورنيو د اقتصادي وضعيت د لا خرابېدو او د فقر او لوږې د ډېرېدو په اړه ډېر راپورونه خپاره شوي دي. د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام د ارزونې له مخې، په افغانستان کې د بې وزلۍ تر کرښې لاندې د خلکو شمېر دوه چنده زيات شوی دی.[۵] دې وضعيت د ماشومانو پر ژوند مستقيمه اغيزه درلوده، چې د ځان وژنې هڅه يې يوه پايله ده.

د غور ولايت سيمه ايزو سرچينو رواداري ته ويلي چې په دغه ولايت کې د ماشومانو د ځان وژنې د پېښو شمېر په چټکۍ سره زيات شوی، چې ډېری قربانيانې يې نجونې دي. په ورته ډول، د باميان د ولايتي روغتيايي خدمتونو د مرکزونو څخه د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، د ځان وژنې اړوند د ټولو ثبت شويو قضيو پنځوس سلنه له ۱۸ کلونو څخه ښکته ماشومان دي. په بدخشان ولايت کې هم، په تيرو دوو کلونو کې لږ تر لږه ۳۵ هلکانو او نجونو ځان وژنه کړې ده. د هيواد په سويلي او ختيځو برخو کې، د روغتيايي خدماتو له

۵ UNDP, Afghanistan Socio-Economic outlook, 2023. https://www.undp.org/afghanistan/publications/afghanistan-socio-economic-outlook-2023

مرکزونو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د ماشومانو د ځان وژنې د هڅو د قضیو شمېر د تیرو کلونو په پرتله لوړ شوی دی. د دې راپور د موندنو پر بنسټ، کورنۍ تاوتریخوالی او ناوړه چلند، جبري او وختي ودونه، د زده کړې حق څخه محرومیت، د رواني روغتیا ستونزې او د راتلونکي په اړه مایوسي د ځان وژنې د زیاتېدو نور اغېز لرونکي عوامل دي.

## په ښوونځیو کې ماشومانو سره تاوتریخوالی او ناوړه چلند

په تیرو دوه کلونو کې، طالبانو د خپلې خوښې ګڼ شمیر کسان ښوونځیو کې د آمر، مدیر او د ښوونکو په توګه ګمارلي دي. دا خلک، چې ډیری د دیني مدرسو فارغین دي، له مناسبو تعلیمي میتودونو سره نا اشنا دي او د ماشومانو د تنبه او پر ماشومانو د تاوتریخوالي مرتکب کیږي.



عکس: سهراب عمر

**په لرګي، خط کش او د برېښنا په مزي وهل، په لغتو، څپېړو، سوک وهل، له غوږ او ویښتو کشول، د ګوتو منځ کې قلم ایښودل، په یوې پښې درول، د ماشومانو په خوله کې د بوټ ورکول، سا بندل او د یوې ورځې اجباري کار په ښوونځیو کې د ماشومانو د سزا ورکولو لپاره عادي او دود شوې لارې چارې دي.**

د کندهار ولایت د ښوونې او روزنې څانګې یو کارمند رواداري ته ویلي چې په ښوونځیو کې د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی زیات شوی او ترټولو مهم دلیل یې د طالبانو له خوا د ښوونځیو د مدیرانو، آمرانو او

ښوونکو ګمارل دي چې زده کوونکو سره تاوتریخوالی او ناوړه چلند کوي. دا خلک ماشومانو سره د تاوتریخوالي او ناوړه چلند د رواني پایلو په اړوند پوهه نه لري او فکر کوي چې د زده کونکو د تربیې او روزنې لپاره یاد ډول سزا ورکول اړین او ګټور دي. په ورته ډول، د بدخشان ولایت یو زده کوونکي ویلي چې زیاتره دوی د هغو ښوونکو لخوا ځورول کیږي او ناوړه چلند ورسره کیږي، چې په تیرو دوو کلونو کې د طالبانو لخوا ګمارل شوي دي. هغه وایي چې نوي ښوونکي په سوک او لغتو، په ګوتو کې قلم ایښودلو، په اوبو کې سا بندولو او فیزیکي کار ته اړیستلو باندې سزا ور کوي.

په تیرو دوو کلونو کې، د طالبانو د پوهنې وزارت د نویو ښوونکو لپاره نه کوم روزنیز او د پوهاوي پروګرام ترسره کړی، او نه یې له زده کوونکو سره د تاوتریخوالي او ناوړه چلند پېښو ته د رسیدو اقدام کړی دی. د مثال په توګه، د ۲۰۲۳ په جولای کې یو ماشوم د کندهار ولایت په یوه ښوونځي کې د ښوونځي د مدیر لخوا دومره ووهل شو چې د درملنې لپاره روغتون ته یوړل شو. خو د پوهنې ریاست د دې قضیې د هواري لپاره هیڅ اقدام نه دی کړی.


**له بلې خوا، ترلاسه شوي معلومات ښیي چې په ګڼ شمیر ولایتونو کې، طالبان هغو زده کونکو سره ډېر تاوتریخوالی او ناوړه چلند کوي چې پلار یا یو خپلوان یې په پخواني حکومت کې کار کړی وي. له غور ولایت څخه سرچینو رواداري ته ویلي چې په ښوونځیو کې یو شمیر زده کونکي له دې امله له تاوتریخوالي او ناوړه چلند سره مخ کیږي چې نږدې خلک او خپلوان یې د پخواني حکومت کارمندان ؤ.**

## په دیني مدرسو کې د ماشومانو جنسي ځورونه

رواداری په دیني مدرسو کې پر ماشومانو د جنسي تیري لړزوونکې پېښې مستندې کړې دي چې په تیرو دوو کلونو کې د دې مرکزونو د ښوونکو لخوا ترسره شوي دي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، په مدرسو کې پر ماشومانو د جنسي تیري د جرمونو یوازې کوچنۍ برخه افشا او ښکاره کیږي؛ ځکه چې له یوې خوا ماشومان د هغه څه په اړه چې پرې تېر شوي دي د خبرو کولو فضا او فرصت نه لري، او له بلې خوا، په ټولنه کې موجود کلتوري حساسیت او خنډونه د پېښو د پټولو او محرمیت لامل کیږي. د بدخشان ولایت د جوماتونو له امامانو څخه یو امام رواداري ته ویلي چې د دې ولایت په ډېرو مذهبي مدرسو کې د ماشومانو جنسي زورونه کیږي او ډېره کمه برخه یې افشا کیږي.

د قربانیانو کورنۍ او خپلوان هم دا قضیې خپل ټولنیز دریځ او شهرت ته د زیان رسېدلو له ویرې پټې ساتي، او په ډېرو مواردو کې یې طالبان د افشا کېدو مخه نیسي. د دې راپور د موندنو له مخې، طالبانو د قربانیانو کورنۍ ګواښلې دي، چې په مذهبي مدرسو کې د ماشومانو د جنسي ځورونې په اړه له هر ډول څرګندونو څخه ډډه وکړي.

په یوه بله قضیه کې، په هرات ولایت کې د جومات یو ملا امام پر یوه پنځه کلنه نجلۍ باندې جنسي تېری وکړ، چې قرباني ماشومه په خراب روغتیایي وضعیت کې د درملنې لپاره روغتون ته یوړل شوه. طالبانو د قضیې د قانوني تعقیب لپاره هیڅ اقدام و نه کړ. همدارنګه په کندوز ولایت کې یو بل ملا امام د ځایي خلکو لخوا ونیول شو، چې په یو کانتینر کې یې له خپلو زده کونکو څخه پر یو هلک باندې د جنسي تیري نیت درلود. خو



د مثال په توګه، د ۲۰۲۳ په جریان کې، په کندهار ولایت کې یو دیني ښوونځي پر یو ۸ کلن هلک جنسي تېری وکړ او کله چې د قرباني د کورنۍ غړي د هغه خراب روغتیایي وضعیت ته متوجه شول نږدې امنیتي مرکز ته یې مراجعه او شکایت وکړ. د قرباني د کورنۍ یو غړي قضیه په لاندې ډول بیان کړه: «موږ چې کله موضوع ته متوجه شوو، د طالبانو د پولیسو نږدې امنیتي پوستې ته لاړو، چې شکایت درج کړو، خو د دې پوستې منسوبینو چې و یې لیدل جرم په یوه دیني مدرسه کې ترسره شوی، موږ ته یې وویل چې دې قضیې ته رسیدګي د دوی مسئولیت نه دی. بیا موږ امنیتي حوزې ته ورغلو، خو د حوزې آمر تېښګار کاوه چې دا موضوع مه لویوئ، ورشئ له تیري کوونکي سره روغه وکړئ او هغه وبښئ.» د قرباني کورنۍ وایي: «کله چې موږ د امنیتي حوزو څخه ناهیلي شو، موږ د خپل شکایت تعقیبولو لپاره د طالبانو امر بالمعروف ادارې ته لاړو، په دې مرحله کې تیری کوونکی ونیول شو او قرباني ماشوم د صحي معاینو او ادعا د اثبات لپاره روغتون ته ولېږل شو. روغتون په رسمي توګه په یو استعلام کې جنسي تیری تایید کړ؛ خو د طالبانو د امر بالمعروف ادارې ونه منله او د قرباني د کورنۍ دغه غړي ته یې وویل چې ته زیره نه لرې او موږ ستاسو نظر نه منو. موږ ټینګار وکړ او قضیه مو عدلي طب ته راجع کړه، چې هلته هم تایید شوه، خو دوه ورځې وروسته موږ خبر شوو چې تېری کوونکی شخص له زندانه خوشې شوی دی.» د قرباني کورنۍ ویلي چې نشي کولی دا پیښه له پامه وغورځوي او تعقیب به یې کړي.

Photo Source: AP Photo/Felipe Dana

سرچینو ویلي چې طالبانو دا قضیه له پامه وغورځوله، چې د دیني مدرسو د بدنامۍ مخه ونیسي او د قضیې د هواري لپاره یې هیڅ قانوني اقدام ونه کړو.

پداسې حال کې چې پر ماشومانو جنسي تیری یو لوی جرم او د بشر حقونو نقض ګڼل کیږي؛ خو که مرتکبین یې د دیني مدرسو استادان وي، د مذهبي ځای ځایګي او د هغه درناوي له امله چې طالبان یې ورته لري، له هر ډول تعقیب او مجازاتو څخه خوندي پاتې کیږي.

په تیرو دوه کلونو کې، د جنسي ځورونې قرباني ماشومانو اړینې روغتیایي پاملرنې، رواني مشورې او قانوني مرستې ته هم لاسرسی نه درلود، او طالبانو د ماشومانو د ملاتړو بنسټونو فعالیتونه محدود کړي دي. د مثال په توګه په دایکندي ولایت کې طالبانو په قصدي ډول د ماشومانو د حقونو د ملاتړ دوه ادارې له فعالیت څخه منعه کړې دي او د کار کولو اجازه یې نه ده ورکړې.

## د سرتیرو او نظامي پرسونل په توګه د ماشومانو کارول

د ماشوم د حقونو د نړیوال کنوانسیون له مخې، د نظامي پرسونل په توګه د ماشومانو ګمارنه او کارول په کلکه منعه دي.[6] همدارنګه، د کنوانسیون اختیاري پروتوکول د ماشومانو کارول او له نظامي بنسټونو سره د ماشومانو هر ډول اړیکه منعه کړې ده.[7] د نړیوالې جنایي محکمې منشور په شخړو او جګړو کې د نظامي ځواک په توګه او هم د سولې پر مهال د نظامي ځواک په توګه د ماشومانو کارول منعه کړي او د بین المللي جرم او جنګي جنایت په توګه یې په رسمیت پېژندلي دي.[8]


سربیره پر دې، د ملګرو ملتونو ۱۶۱۲ پریکړه لیک، چې په ۲۰۰۵ کې تصویب شوی، د سرتیري یا نظامي پرسونل په توګه د ماشومانو کارول یې منعه کړي دي. سره له دې، طالبانو د تیرو دوو کلونو په اوږدو کې یادو اسنادو ته هیڅ پاملرنه نه ده کړې او د هیواد په بېلابېلو برخو کې یې ماشومان د سرتېرو او پوځي پرسونل په توګه ګمارلي کړي دي. که څه هم د طالبانو مشر د ماشومانو په کار باندې د بندیز فرمان صادر کړی، خو هیڅوک یې په عمل کې نه رعایتوي. لکه څنګه چې ترلاسه شوي شواهد او مدارک ښیي چې د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ په «زمینداور» سیمه کې یوه دیني مدرسه واړه ماشومان د دیني زده کړې په پلمه جذبوي خو هلته ورته نظامي زده کړې ورکوي. د دې راپور موندنې ښیي چې دا مدرسه د طالبانو لخوا کنټرولیږي او ماشومان پکې د نظامي استفادې لپاره روزل کیږي.

سربیره پر دې، رواداري داسې معلومات ترلاسه کړي چې ښیي په سویلي ولایتونو کې د طالبانو د اسلامي امارت یو شمیر مسئولین او د مسجدونو امامان په ښکاره د جګړې له تاوتریخوالي ډکو طریقو د زده کړې او د طالبانو له لیکو سره د یوځای کېدو لپاره ماشومان تشویقوي او تبلیغات کوي. دې مسلې، په وروستیو کلونو کې

٦ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د ماشوم د حقونو نړیوال کنوانسیون، د ۱۹۸۹ پرېکړه لیک، ۳ پراګراف، ۳۸ ماده.

۷ د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلی، د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون اختیاري پروتوکول، ۲۰۰۰ کال.

۸ د نړیوالې جزایي محکمې منشور، ۱۹۹۸ کال.



روادارۍ نور شواهد او مدارک هم ترلاسه کړي دي چې ښيي د طالبانو سیمه ییز چارواکي په پلان شوې توګه د ماشومان د ګمارنې لپاره هڅه کوي. د مثال په توګه، په فراه ولایت کې د طالبانو د احصائیې رئیس خپلو کارمندانو ته ویلي چې د ۱۶ کلنو ماشومانو عمر چې تذکره اخلي، دوه کاله زیات ولیکئ، چې په امنیتي ځواکونو کې د دوی د استخدام پر وړاندې قانوني خنډ لرې شي. سربیره پردې، طالبانو په نیمروز ولایت کې له ۱٦ کلونو څخه کم عمر لرونکي ډیر ماشومان استخدام کړي دي او په تذکره کې یې عمر دوه کاله زیات لیکلی دی.

Photo Source: bhagas.blogspot.com

بنسټپالو او افراطي مفکورو ته په ودې ورکولو کې د یو شمېر دیني مرکزونو د نقش سربېره، د ماشومانو د زده کړې پر ډول او د ماشومانو پر ټولنیزې تربیې ویجاړوونکې اغېزې کړې دي. د هلمند ولایت دوو ۱۵ او ۱٤ کلنو ماشومانو رواداري ته ویلي چې دوی غواړي مدرسې ته لاړ شي او جنګي زده کړې وکړي چې د طالبانو د ځواکونو په لیکو کې کار وکړي.

د دغه راپور د موندنو پر بنسټ، یوه برخه ماشومان چې په تیرو دوو کلونو کې د سرتیرو او پوځي پرسونل په توګه استخدام شوي، هغه کسان دي چې پلرونه او نور نږدې خپلوان یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت پر وړاندې د طالبانو په جګړه کې وژل شوي دي. طالبان د دغو افرادو د درناوي په توګه، د دوی ماشومان په پوځي واحدونو کې ګمارلي دي. یو شمېر نور دغه ماشومان د ځایي طالب قومندانانو نږدې خپلوان دي چې د طالبانو د پوځي ځواکونو د شمېر د زیاتوالي لپاره ګمارل شوي دي. سرچینو رواداري ته ویلي، چې طالبان خپل خپلوان هڅوي چې خپل ماشومان د پوځي ځواکونو لیکو ته واستوي، څو د هغوی د باور وړ ځواکونو شمیر زیات شي. د بېلګې په توګه، د میدان وردک ولایت یو ۱۷ کلن ماشوم په دې اړه وویل: "کله چې طالبانو واک ترلاسه کړ، ښوونځی مې پرېښود او اوس له خپل ورور سره چې د یو کنډک قوماندان دی، د سرتیري په توګه کار کوم. زه خوښ یم چې په دې دنده ګمارل شوی یم او هیله لرم چې په راتلونکي کې یو لوړ پوړی قوماندان شم.»

همدارنګه، د دې راپور موندنې ښيي چې یو شمیر ماشومان په ښکاره ډول د طالب چارواکو د ساتونکو، منشیانو، خادمانو یا چلوونکو په توګه استخدام شوي، مګر په حقیقت کې د جنسي ناوړې ګټې اخستنې لپاره ساتل شوي دي. د مثال په توګه، په غور ولایت کې د طالبانو یو ځایي چارواکي پر خپل ساتونکي چې یو کم عمره هلک دی جنسي تېری کړی، قرباني په خراب روغتیایي وضعیت کې روغتون ته وړل شوی او بستر شوی ؤ. په یوه بله قضیه کې، د هیواد په شمال کې د طالبانو یو ځایي چارواکي په مکرر ډول پر خپل ساتونکي، چې ۱۵ کلن هلک دی، جنسي تېری کړی و. دا قضیه د هغه د یو همکار لخوا افشا شوه؛ خو طالبانو هیڅ قانوني اقدام و نه کړ او قرباني ماشوم لا هم د دې کس د ساتونکي او موټر چلوونکي په توګه کار کوي. په دایکندي ولایت کې هم، طالبانو په کنډکونو او امنیتي پوستو کې ګڼ شمېر ماشومان استخدام کړي دي او ډېرو مواردو کې یې د جنسي ګټې اخیستنې په موخه ساتي.

**ډیری ماشومان چې د طالب چارواکو د ساتونکو، منشیانو، خادمانو یا د چلوونکو په توګه ګمارلي، معمولا د ۱۴-۱۸ کلونو تر منځ عمر لري او ډیر زړه راښکونکي ښکاري. یو شمیر یې په غیر رسمي ډول ګمارل شوي، چې طالب چارواکي دوی ته د خپل «امتیازی پیسو" څخه پیسې ورکوي.**

په افغانستان کې د پوځي ځواکونو په لیکو او وسله والو جګړو کې د ماشومانو د شتون ستونزه هیڅ نوې نه ده؛ خو مسله دا ده چې اوس په هیواد کې د ماشومانو د کار کولو د مخنیوي لپاره هیڅ قانون نافذ نه دی، او طالبان په دې برخه کې نړیوالو قوانینو ته هیڅ اعتنا نه کوي. سربیره پر دې، د ‹ملي مقاومت جبهې› د ځواکونو په لیکو کې هم د ماشومانو د شتون راپورونه شته چې د طالبانو پر وړاندې جګړه کې ګډون کوي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۲ په سپټمبر کې، یو ۱٦ کلن ماشوم چې د «ملي مقاومت جبهې» سرتېری و، طالبانو ته له تسلیمیدو وروسته د خپلو همکارانو سره یو ځای د طالبانو له خوا په ډزو ووژل شو.

دویمه برخه

# د عـادلانـه محـاکمې د اصـولـو نـقض او د متـخلفو مـاشومانـو د بشري حقونو وضعیـت



عکس: سهراب عمر

د بشري حقونو د نړیوالو اسنادو له مخې، هغه ماشومان چې قانون څخه د سرغړونې په تور تورن دي، د ټولو هغو ملاتړونو او حقونو تابع دي، چې باید د عادلانه محاکمې په پروسه کې د لویانو لپاره رعایت شي. سربیره پر دې، د ماشومانو د فزیکي او رواني شرایطو له امله، یادو اسنادو د ماشومانو د محاکمې لپاره ملاتړونه، اصول او ځانګړي تشریفات هم ټاکلي دي، چې هدف یې د قانون څخه په سرغړونو د تورنو ماشومانو د انساني کرامت ساتنه او د بشري حقونو رعایت، دوسیو ته د رسیدو چټکتیا او د ماشومانو د اصلاح او تربیې څخه ډاډ ترلاسه کول دي.[۹] د دې راپور موندنو ښودلې چې د طالبانو په عدلي او قضایي بنسټونو کې، د ماشومانو د محاکمې اړوند هیڅ اصول او معیارونه نه دي رعایت شوي، او نه هم هیڅ داسې قانون شته چې د دوی دوسیو ته د قضایي رسیدګۍ ډول وټاکي. هغه چاره، چې د پراخې ګډوډۍ او په پای کې د تورنو او متخلفو ماشومانو د بشري حقونو د نقض سبب شوې ده.

په دې برخه کې، پر هغو مهمو ستونزو بحث کیږي چې د تورنو ماشومانو د محاکمې او د هغوی دوسیو ته د رسیدو په پروسه کې موجودې دي.

## د ماشومانو د ځانګړو قوانینو لغوه کول

لکه څنګه چې د راپور په تیرو برخو کې وویل شوه، طالبانو د ماشومانو ټول ځانګړي قوانین لغوه کړل او له همدې امله اوس مهال هیڅ قانوني میکانیزم نشته چې د ماشومانو د بشري حقونو تضمینوونکی وي او د هغوی دوسیو ته د قضایي رسیدنې ډول وټاکي. دا مهال د فقهي څخه سختو برداشتونو د قانون ځای نیولی او د طالبانو محکمې د خپل رهبر د فتوا او فرمانونو پر بنسټ جزایي او حقوقي قضیې حل و فصل کوي. د تورنو ماشومانو دوسیو ته رسېدنه هم د دې شرایطو تابع ده. خو، د ماشومانو د سرغړونو قضیو ته د رسېدنې ډول په بېلابېلو ولایتونو او محکمو کې توپیر سره لري.

باید یادونه وکړو چې د ماشومانو د جرمونو ډیری کمې قضیې، او په ځانګړي ډول له کوره د واده په موخه د تېښتې قضیې او اخلاقي جرمونه ډېر کم په رسمي توګه په محکمو کې څېړل کیږي. د ماشومانو ډیری دوسیې چې په راتلونکو کرښو کې به راشي، د غیر قضایي میکانیزمونو او غیر مسؤلو مراجعو لخوا حل کیږي.

## د غیر قضایي میکانیزمونو له لارې د ماشومانو سرغړونو ته رسېدنه

د ځانګړو قوانینو پر لغوه کولو سربیره چې یادونه یې وشوه، طالبانو ټول بنسټونه او اړوندي ځانګړي برخې لکه څارنوالۍ او ځانګړې محکمې له خپلو عدلي او قضایي بنسټونو څخه حذف کړې دي. څارنوالۍ او ځانګړې محکمې د ماشومانو قضیو ته د رسیدو لپاره رامنځته شوې وې او د عادلانه محاکمې د اصولو او موازینو په رعایت کې یې مهم رول درلود. اوس د طالبانو په عدلي او قضایي ادارو کې هیڅ ځانګړې برخه نشته چې د ماشومانو سرغړونو ته رسیدګي وکړي.

۹ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون، ۱۹۸۹ کال، ۳۷ او ۴۰ مواد.

سره له دې، د اوسني راپور موندنې ښيي چې ډېری وختونه د ماشومانو اړوند قضيې د رسيدګۍ لپاره محکمې ته نه سپارل کيږي، بلکې د غير قضايي ميکانيزمونو له لارې حل و فصل کيږي، چې په دې کې د امر بالمعروف په څېر اداري، امنيه قوماندانۍ، امنيتي حوزې، واليان، ولسوالان، قومي جرګې د ګذر وکيلان او د سيمې مشران هر يو د تورنو ماشومانو دوسيو ته په رسېدنه کې مهم رول لري. د طالبانو محکمې حتی د ماشومانو د حقونو د نقض لوېې قضيې د حل و فصل کولو لپاره دې مراجعو ته وړاندې کوي. د مثال په توګه، په دايکندي ولايت کې د طالبانو محکمې پر يوې نجلۍ د دوو تنو د جنسي تيري قضيه د حل و فصل کولو لپاره د سيمې مخورو ته راجع کړه. رواداري بنسټ هغه قضيې هم مستندې کړې دي چې د طالبانو امنيتي حوزو او د امر بالمعروف آمريتونو، وروسته له هغې چې ماشومان يې توقيف کړي دي، پريکړه يې کړې چې دغه قضيې پخپله حل کړي او د دوی لپاره د سزا ډول او اندازه وټاکي، ماشومان په امنيتي حوزو کې د خپلې سزا پوره کولو وروسته خوشې شوې دي. وهل، په دُرو وهل او نغدي جريمې هغه سزاګانې دي چې په امنيتي حوزو او امر بالمعروف آمريتونو کې پر ماشومانو پلې کيږي.

همدا راز، د رواداري د څارونکو موندنې ښيي چې د تورنو ماشومانو د ملي امنيت اړوند قضيې عملا محکمې ته نه ليږدول کيږي، بلکې استخباراتي اداره اوامنيتي حوزې دغو ماشومانو ته سزا ورکوي او هغوی د مياشتو لپاره په توقيف خونو کې ساتي. دغه ماشومان په يو شمېر مواردو کې په مياشتو اجازه نه لري چې د خپلو کورنيو سره په اړيکه ونيسي.

## مدافع وکیل ته د لاسرسي نشتوالی

د رواداري موندنې ښيي چې تورن ماشومان مدافع وکيل او قانوني مرستې ته لاسرسی نلري. پداسې حال کې چې د دې حق تضمين د عادلانه محاکمې يو له خورا مهمو اصولو او معيارونو څخه دی. د بشري حقونو نړيوالو اسنادو د څېړنې او محاکمې په ټولو مرحلو کې د ماشومانو لپاره دغه حق په رسميت پيژندلی دی.[١٠] وکيل ته لاسرسی او قانوني مرستې ځکه مهمې دي چې ماشومان د مختلفو عمرونو د شرايطو له امله، چې دوی يې لري، نشي کولای د محکمې پر وړاندې له خپل ځان څخه دفاع وکړي.

ترلاسه شوي معلومات ښيي، چې د طالبانو محکمې په دې برخه کې سخت محدوديتونه وضعه کوي او پلي کوي. د بيلګې په توګه، له تورنو کسانو سره د مدافع وکيل ليدنه، د محکمو کتبي اجازې ته اړتيا لري او همدا راز مدافع وکيلان مکلف دي چې د ماشومانو له خوا د خپل وکالت د اثبات لپاره محکمې ته دوه شاهدان حاضر کړي. سره له دې، د هلمند او پنجشير ولايتونو په ګډون په يو شمېر ولايتونو کې د طالبانو محکمې د ماشومانو د جنايي قضيو اړوند هيڅ مدافع وکيل نه مني. خو په يو شمير ولايتونو کې لکه کندهار، غزني، ميدان وردګ، پکتيکا، پکتيا، دايکندي او خوست کې د جزايي قضيو اړوند دغه محدوديت نشته، خو د هغو ستونزو له امله چې مطرح شوې، ماشومان نشي کولای مدافع وکيل او حقوقي مرستندوی ته لاسرسی ولري. لکه څنګه چې په تيرو دوو کلونو کې حتی يو سرغړونکي ماشوم هم مدافع وکيل يا قانوني مرستندوی ته لاسرسی نه درلود.

١٠ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د ماشوم د حقونو بين المللي کنوانسيون، ١٩٨٩ کال، (د) ٣٧ ماده او ٢ (ب)، ٤٠ ماده.

## د ماشومانو قضيو ته په رسيدني کې ځنډ

د قانون په نقض د تورنو ماشومانو دوسيو ته رسېدنه بايد په معقوله موده او له نه توجيه کېدونکي ځنډ پرته ترسره شي.[11] خو د طالبانو په حکومت کې نه د متخلفو ماشومانو قضيو ته د رسېدنې طرز معلوم دی او نه يې د څارنې او توقيف موده معلومه ده. که څه هم د ماشومانو د قضيو، په ځانګړې توګه د غير اخلاقي جرمونو اړوند تورونو يا له کور څخه د تېښتې قضيې ډېرې کمې په محکمه کې حل و فصل کيږي؛ خو بيا هم که چيرې د هغو ماشومانو قضيې چې په يادو جرمونو تورن دي د دوی د کورنيو لخوا تعقيب نه شي، تورن ماشومان د ډېرې مودې لپاره د آزادۍ د سلب په ځايونو کې بې برخليکه پاتې کيږي. څکه چې اوس په افغانستان کې هيڅ داسې قانون نشته چې د ماشومانو د څارنې، توقيف او حجز موده وټاکي. **د مثال په توګه، د ۲۰۲۲ په مارچ کې، يو ۱۴ کلن ماشوم د ۱۰۰ افغانيو د غلا په تور د درې مياشتو لپاره د طالبانو په توقيف کې ساتل شوی و.** په دايکندي ولايت کې هم داسې معلومات شته چې تورن ماشوم  تر يو کال پورې د لويانو په نظارت خونو کې په ولسواليو کې ساتل شوي دي.

## د لويانو بنديانو سره يو ځای د محجوزو ماشومانو ساتل

په تيرو دوه کلونو کې، طالبانو په ټول هيواد کې د ماشومانو د اصلاح او تربيې ګڼ شمير مرکزونه بند کړي او محجوز ماشومان د لويانو بنديانو سره يو ځای ساتي. هغه چاره چې د عادلانه محاکمې له اصولو څخه ښکاره سرغړونه ده او د بشري حقونو د نړيوالو اسنادو له مقرراتو څخه سرغړونه ګڼل کيږي. څکه چې د مدني او سياسي حقونو د ميثاق په ګډون، نړيوالو اسنادو له لويانو متهمينو څخه د ماشومانو د بېلولو پر اړتيا تاکيد کړی دی. د يادو اسنادو له مقرراتو سره سم، له آزادۍ څخه محروم شوي ماشومان بايد د هغوی له عمر او قانوني وضعيت سره د سم نظام تابع اوسي.[12] خو د ماشومانو د اصلاح او تربيې د يو شمير مرکزونو په بندولو سره، طالبان اوس د ماشومانو د توقيف لپاره د لويانو له زندان څخه کار اخلي. د مثال په توګه، په کندهار او ارزګان ولايتونو کې هلکان د اصلاح په مرکز او کم عمره نجونې له لويانو ښځو سره يوځای په زندان کې ساتل کيږي.

په نيمروز ولايت کې هم طالبانو د ماشومانو د اصلاح او تربيې مرکز تړلی او په دې توګه د لويانو بنديانو سره په عمومي زندان کې د ۸ او ۱۷ کلونو ترمنځ عمر لرونکي ۳۱ ماشومان ساتل کيږي. په پنجشير ولايت کې، طالبان هغه ماشومان چې په جنايي جرمونو تورن دي د اصلاح په مرکز او هغه ماشومان چې په «سياسي جرمونو» تورن دي په نظارت خونو، توقيف خونو او محبسونو کې ساتي. په ورته ډول، په غور او هرات ولايتونو کې طالبانو د ماشومانو د اصلاح او تربيې مرکز عمومي زندان ته لېږدولی او محجوز ماشومان هلته ساتي. همدارنګه، د کندوز، تخار، بغلان او بدخشان په ولايتونو کې طالبان ماشومان د لويانو تورنو په څېر د محکمې د حکم تر صادرېدو په نظارت خونو او زندانونو کې ساتي او وروسته له هغې چې محکمه يې په اړه تصميم ونيسي د اصلاح مرکز ته لېږدول کيږي.

۱۱ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، ۱۹۶۶ کال، ۳ پراګراف، ۹ ماده.

۱۲ هماغه سرچينه، ۱۰ ماده.

د لويانو بنديانو سره د ماشومانو يو ځای ساتل د بشري حقونو څخه ښکاره سرغړونه ده؛ ځکه د لويانو زندانيانو چلند په رواني او تربيتي لحاظ کولای شي زيانمنوونکې پايلې ولري، په ماشومانو کې جرمي انګېزې پياوړې کړي او هغوی د مجرمانه چلندونو په ځانګړي ډول له جنسي ځورونې او د تاوتريخوالي د نورو بڼو له خطر سره مخامخ کړي. **لکه څنګه چې په غزني ولايت کې د طالبانو د واکمنۍ په لومړي کال کې، ماشومان د لويانو بنديانو سره يوځای ساتل کېدل، چې د هغوی د جنسي زورونې اړوند ډېر شکايتونه د زندانيانو له خوا مطرح شول. وروسته له هغې، او د فشار په پايله کې، طالبان اړ شول چې د محجوزو ماشومانو لپاره د محبس په دننه کې بېله ودانۍ ځانګړې کړي.**

## له محجوزو ماشومانو سره ناوړه چلند او شکنجه


د بشري حقونو د نړيوالو اسنادو له مخې، د اشخاصو شکنجه کول او ورسره بد چلند په بشپړه توګه منع دي، او هيڅوک بايد په هر حالت کې د ځورونې، ربړونې او ظالمانه او غير انساني مجازاتو سره مخ نشي. دا حق د ماشومانو لپاره هم تضمين شوی دی. د ماشوم د حقونو د نړيوال کنوانسيون د ۳۷ مادې (الف) پراګراف وايي: «هيڅ ماشوم بايد له شکنجې، يا نور و ظالمانه او غير انساني چلندونو سره مخ نشي...». [۱۳] سره له دې، د رواداري موندنې ښيي چې محجوز ماشومان د شکنجې او ناوړه چلند له بېلابېلو ډولونو سره مخ دي. وهل ټکول، په زوره د تشنابونو، پخلنځيو، د محبس د خونو او د آزادۍ د سلب د ځايونو د مسئولينو د خوب د خونو پاکول، په زوره پخلی کول مصنوعي ډوبول د آزادۍ د سلب په ځايونو کې له ماشومانو سره د ناوړه چلند او شکنجو بېلګې دي. د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، ماشومانو سره ناوړه چلند او شکنجه په امنيتي حوزو کې ترسره کيږي. لکه څنګه چې په غزني ولايت کې د يوې امنيتي حوزې چارواکو د باسيکل د غلا تورن يو ماشوم سخت وهلی او شکنجه کړی و. د ۲۰۲۲ په اپريل کې، طالبانو د دايکندي ولايت په مرکز او «ناوه ميش» ولسوالۍ کې درې کم عمره ماشومان له دې امله نيولي چې پلرونو يې په مخکني حکومت کې کار کړی و. دا ماشومان په امنيتي حوزو کې سخت شکنجه شوي، تر دې چې يو يې له جدي رواني ستونزو سره مخ شوی دی.

په کابل او پنجشير ولايتونو کې، رواداري داسې پېښې مستندې کړې دي، چې د ملي امنيت پر ضد جرمونو او له مخالفو ډلو سره په همکارۍ تورن شوي ماشومان د طالبانو د پوليسو او استخباراتو له خوا نيول شوي او په امنيتي حوزو کې سخت ربړول شوي دي. دا ماشومان له نيول کېدو څخه تر خوشې کېدو پورې وهل شوي او تر څو مياشتو يې اجازه نه درلوده چې له خپلو کورنيو سره خبرې وکړي. همدارنګه، په غور په ولايت کې، طالبان محجوز ماشومان د پخلنځيو او تشنابونو  پاکولو او اوبو راوړلو ته مجبوروي.

## له ماشومانو سره د طالبانو د محکمو توپيري چلند

د رواداری څېړنو پايلې ښيي چې طالبان له قانون څخه په سرغړونې د تورنو ماشومانو دوسيو ته په رسېدنه کې متفاوت او توپيري چلند لري او په اړه يې د تور د ډول پر بنسټ نه، بلکې د هغه جنسيت او قوميت ته

۱۳ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د ماشوم د حقونو په بين المللي کنوانسيون، ۱۹۸۹ کال، ۳۷ او ۴۰ مواد.



د رواداري موندنې ښيي چې محجوز ماشومان د شکنجې او ناوړه چلند له بېلابېلو ډولونو سره مخ دي. وهل ټکول، په زوره د تشنابونو، پخلنځیو، د محبس د خونو او د آزادۍ د سلب د ځایونو د مسئولینو د خوب د خونو پاکول، په زوره پخلی کول مصنوعي ډوبول د آزادۍ د سلب په ځایونو کې له ماشومانو سره د ناوړه چلند او شکنجو بېلګې دي.

Photo Source: Adobe Stock

په کتو تصمیم نیسي. په ډېرى قضیو کې د طالبانو محکمې، په ځانګړې توګه د واده په موخه له کوره د تېښتې او غیر اخلاقي جرمونو اړوندو قضیو کې، د نجونو لپاره ډېره سخته سزا ټاکي او هغوی سره په سختۍ سره چلند کوي.

په بدخشان ولایت کې یوې سرچینې ویلي چې طالبان په ښکاره وايي: "ښځې او نجونې د فساد او فتنې سرچینې دي، او که دوی له کوره بهر نشي نارینه په یواځې ځان د هیڅ جرمي عمل د ترسره کولو توان نه لري." په دې ولایت کې ځایي طالب چارواکو حتی د جمعې د لمانځه په خطبو کې هم ویلي چې ښځې او نجونې "د شیطان سفیرانې او د فساد او فحشا سرچینه ده او نارینه ګمراه کوي.» د ښځو او نجونو اړوند دغه ډول ذهنیت، د محاکمو تصامیم او پرېکړې هم اغیزمنې کړې دي. لکه څنګه چې په غور او کندهار ولایتونو کې سرچینو رواداري ته ویلي دي چې د اخلاقي فساد او د واده په موخه له کوره د تېښتې په قضیو کې، محکمې له نجونو سره سخت چلند کوي او معمولا په داسې قضیو کې نجونې ملامتې ګڼي او وايي چې «نجونې هلکان تحریکوي».

همدا راز، طالبان له هغو تورنو ماشومانو سره چې د دوی خپلوان او نږدې کسان وي متفاوت چلند لري، او معمولا د هغوی لپاره لږه سزا په نظر کې نیسي، او یا په اسانۍ د هغوی د برائت حکم کوي. د مثال په توګه، په نیمروز ولایت کې کله چې یو متخلف ماشوم له قاضیانو او د طالبانو د له عدلي او قضایي ادارو کارمندانو سره قومي او د کورنۍ اړیکه ولري نه مجازات کیږي، خو د نورو توکمیزو ډلو پوري تړلو ماشومانو سره ډېر سخت چلند کوي.

## پر ماشومانو د ظالمانه سزاګانو پلي کول

د بشري حقونو نړیوالو اسنادو د مجازاتو او د ماشومانو لخوا ترسره شویو جرمونو د ډول تر منځ په تناسب ټینګار کړی، او هم یې سختې او سپکوونکې سزاګانې، که د ماشومانو د اصلاح او تربیې لپاره هم وي، منعه اعلان کړې دي. له بلې خوا، د ماشومانو د عمر غوښتنې او د هغوی ګټې د دې غوښتنه کوي چې محکمه یې باید په علني توګه جوړه نشي او صادر شوی حکم باید خپور نه شي.[١٤] خو طالبانو په تیرو دوه کلونو کې ډېر ماشومان د جرمي کړنو د ترسره کولو په تور، په عمومي ځایونو او د خلکو په مخ کې مجازات کړي دي. د اخلاقي جرمونو په تور په ښکاره توګه تورنو ماشومانو ته سزا ورکول په عامه رویه بدل شوي دي، او د طالبانو محکمې د ماشومانو د عمر غوښتنو او د هغوی ګټو ته له پاملرنې او هم له هیڅ ډول تحقیق او د جرم د اثبات د دلایلو له راټولولو پرته، هغوی د خلکو په مخ کې مجازات کوي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ پر ۱٦ مه، طالبانو یو کم عمره هلک او نجلۍ په بدخشان ولایت کې د ټلفوني اړیکې په تور په عام محضر کې په دُرو ووهل. همدارنګه، په میدان وردګ ولایت کې طالبانو یو ۱۷ کلن هلک د هغه په ټلفون کې د سندرې د پیدا کولو له امله وهلی او سر یې ورخریلی ؤ. همدا راز، د ۲۰۲۲ کال د جون پر ۲۷ مه، طالبانو د بدخشان ولایت په مرکز فیض اباد ښار کې د غلا په تور دوه ماشومان ونیول او مخونه یې ورته تور کړل، په موټر کې یې په ښار کې وګرځول او خلکو ته یې وښودل.

١٤ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون، ٤٠ ماده.

دریمه برخه

# پایـله او وړانـدیزونـه



عکس: سهراب عمر

## پایله

د دې راپور موندنو ته په پام سره، حقیقت دا دی چې په افغانستان کې ماشومان اوس مهال په یو نازک او خورا ستونزمن حالت کې دي. ځکه چې په هیواد کې د پخوانیو قوانینو لغوه کول او ورپسې په هیواد کې د حقوقي نظم له منځه تلل، د ښځو او نجونو په اړه د طالبانو د اسلامي امارت پالیسي او توپیریز چلند، د مسؤل چارواکو لخوا د ماشومانو د ځانګړو اړتیاوو نه منل او ورته د پاملرنې نشتوالی او د څارونکو ارګانونو او د بشري حقونو مدافعو او څارونکو بنسټونو نشتوالی، لکه څنګه چې په دې راپور کې روښانه شوي، د ماشومانو پر وړاندې د مختلفو ډولونو تاوتریخوالو او مجرمانه چلندونو د زیاتېدلو زمینه برابره کړې ده.

د اجباري او وختي ودونو زیاتوالی، ځان وژنه، جنسي تېری، د مناسبو قضایي میکانیزمونو او ملاتړونو نشتوالی او د عادلانه محاکمې د اصولو نقض هغه تر ټولو مهمې ننګونې دي، چې په افغانستان کې د ماشومانو اندیښمنوونکی او سخت وضعیت څرګندوي. له بلې خوا، پراخه بې وزلي او د کورنیو اقتصادي ستونزې، د کار کولو او د زده کړې حق څخه د ښځو او نجونو قصدي محرومیت، او په افغان ټولنه کې شته ناسم رواجونه او باورونه، نور هغه عوامل دي چې د ماشومانو د بشري حقونو د وضعیت د لا بحراني کېدو لامل ګرځېدلي دي

دې ننګونو ته رسېدنه او د افغان ماشومانو د وضعیت ښه والی قانوني اقداماتو او د ماشومانو د عمر غوښتنو او اړتیا سره سمو تدابیرو ته اړتیا لري چې له بده مرغه په افغانستان کې طالبان د حاکمې ډلې په توګه نه یوازې پر خپل دې حقوقي مکلفیت عمل نه کوي، بلکې څه ډول چې په دغه راپور کې وضاحت ورکړل شو، خپله د ماشومانو د بشري حقونو څخه سرغړونه کوي.

**وړاندیزونه**

رواداري په افغانستان کې د ماشومانو د اوسني وضعيت اړوند خپلو موندنو ته په پام سره دغه لاندې موارد نړیوالې ټولنې، د بشري حقونو سازمانونو او حاکمو چارواکو ته وړاندیزوي.

**الف - نړیوالې ټولنې ته**

- د افغان ماشومانو د انساني حقونو ټينګښت د ملي قوانينو ملاتړ او تضمين ته اړتيا لري. له همدې امله، موږ له نړیوالې ټولنې او بشري حقونو سازمانونو څخه غواړو چې د قانوني لارو او ابزارو څخه په ګټه اخيستنې پر طالبانو فشار راوړي ترڅو مخکنيو نافذه قوانينو په ځانګړې ډول د ماشومانو اړوند قوانينو ته اعتبار ورکړي.
- ماشومانو باندې جنسي تيرى او د نظامي ځواک په توګه د دوى کارول د بشري حقونو تر ټولو جدي سرغړونه ګڼل کيږي، او لکه څنګه چې دې راپور کې وويل شوه، په افغانستان کې ډېر ماشومان اوس مهال له دې مجرمانه چلند سره مخ دي. موږ له نړیوالې ټولنې غواړو چې د بشري حقونو د نړیوالو اسنادو په چوکاټ کې د دې مسلې د حل لپاره اغېزناک تدابير او اقدامات عملي کړي.
- د بې وزلۍ زياتوالی د ماشومانو د مدني او سياسي حقونو په نقض کې اغېزناک عامل دی. د بشردوستانه مرستو د دوام او زياتوالي لپاره د بين المللي هڅو چټکتيا او په افغانستان کې د فقر کموالی کولای شي د ماشومانو د وضعيت په ښه والي کې اغېزناک اوسي.
- موږ له ملګرو ملتونو غواړو چې د متخلفو ماشومانو د بشري حقونو وضعيت ته د رسېدو او عادلانه محاکمې ته د لاسرسي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، په منظم او دوامداره توګه د طالبانو د عدلي او قضايي بنسټونو فعاليت او په ځانګړې توګه د آزادۍ د سلب د ځايونو وضعيت وڅاري.

**ب- حاکمو چاروکو ته**

- حکومتي چارواکو څخه غوښتنه کوو چې د مخکنيو نافذو قوانينو او په ځانګړې ډول د ماشومانو د ځانګړو قوانينو په پلي کولو سره د ماشومانو د بشري حقونو د ملاتړ لپاره پر خپلو حقوقي مکلفيتونو عمل وکړي.
- موږ له حاکمو چارواکو غواړو چې متخلفو ماشومانو سره په چلند کې د بشر حقونو بين المللي معيارونو او سټنډرډونو ته درناوی وکړي او د ماشومانو د حقونو ملاتړ کوونکو بنسټونو ته د فعاليت اجازه ورکړي.
- د جنسي تيري جرمونو او له ماشومانو څخه د سرتيري، نظامي پرسونل او د خدمتګار، منشي او موټر چلوونکي په توګه استفادې ته د پای ټکی کيږدي او له دې زياته د بشر حقونو په برخه کې خپله کارنامه لا درنده نه کړي.
- د ماشومانو پر وړاندې د جرمونو مرتکبين بايد ځواب ويونکي شي او د قربانيانو او د هغوی د کورنيو شکايتونو ته پر وخت او قانوني رسيدګي وشي.
- حاکم چارواکي بايد د جنسيت او توکم پر بنسټ تبعيض، او همدارنګه هغو ماشومانو سره ناوړه چلند پای ته ورسوي، چې خپلوانو يې په مخکني حکومت کې کار کاوه.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د ماشومانو داصلاح او تربيې د هغو مرکزونو په بيا پرانستلو سره چې مخکې يې بند کړي دي، د متخلفو ماشومانو د اغېزناکې اصلاح او تربيې زمينې برابرې کړي، او د هغوی د بشري حقونو د نقض مخه ونيسي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې په ښوونيزو مرکزونو په ځانګړې ډول ديني مدرسو کې د ماشومانو د جنسي زورونې د پای ته رسولو لپاره اغېزناک اقدامات وکړي او مرتکبين يې مجازات کړي.

## د سرچینو لړلیک

- د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجمع، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، مصوب ۱۶ ډسمبر، ۱۹۶۶.
- د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجمع ، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، مصوب ۱۰ ډسمبر ۱۹۴۸.
- د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجمع ، د ماشوم د حقونو نړیوال کنوانسیون، مصوب کال ۱۹۸۹.
- د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجمع ، د ماشوم حقونو نړیوال کنوانسیون اختیاري پروتوکول، مصوب کال ۲۰۰۰.
- د نړیوالي جزايي محکمي اساسنامه، مصوب کال ۱۹۹۸.
- https://www.undp.org/afghanistan/publications/afghanistan-socio-economic-outlook-2023

روادارى
RAWADARI

www.rawadari.org